قسم کے بارے میں مدنی پھول

# د قَسَم په باره کښې مَدَني ګُلونه




شیخ طریقت، امیرِ اہلسنّت، بانیِ دعوتِ اسلامي، حضرت علّامه مولانا ابو بلال

**محمّد اِلیاس عطّار قادِري رَضَوي**

دامت برکاتهم العالیة



پښتو ترجمه:

مجلس تراجم

(دعوتِ اسلامي)

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

# کتاب لوستلو دُعا

ديني کتاب يا اسلامی سبق لوستلو نه مخکښې دا لاندې دُعا لولئ اِنۡ شَآءَاللّٰہ تعالیٰ څه چه لولئ هغه به مو ياد پاتې کيږي:

اَللّٰھُمَّ افۡتَحۡ عَلَیۡنَا حِکۡمَتَکَ وَانۡشُرۡ عَلَیۡنَا رَحۡمَتَکَ یَا ذَا الۡجَلَالِ وَالۡاِکۡرَام

**ترجمه:** اے الله جَلَّ جَلَالُهٗ په مونږه د عِلم او حِکمت دروازې برسيره [يعني بيرته] کړې او په مونږه خپل رحمت رانازل کړې! اے عظمت او بزرګۍ والا!

(مستطرف ج ۱ ص ۴۰، دار الفکر بيروت)

طالب غم مدينه بقيع ومغفرت

**(اول او آخر کښې يو يو ځل دُرود شريف ولولئ)**

د رسالې نوم: د قَسَم په باره کښې مَدَني ګلونه

اول ځل: ---------------

تعداد: ..................

ناشِر: مَکۡتَبَۃُ الۡمَدِیۡنه، عالمي مدني مرکز فيضانِ مدينه، بابُ الۡمدينه کراچۍ.

**مَدَني عرض: بل چا ته د دې رسالې د چاپ کولو اجازت نشته**

**کتاب اخستونکي توجّه وکړئ**

که د کتاب په طباعت کښې څه ښکاره خامي وي يا پاڼرې کمې وي يا په بائنډِنګ کښې مخکښې روسته لګيدلې وي نو مَکۡتَبَۃُ الۡمَدِیۡنَه ته رجوع وکړئ.

# د قَسَم په باره کښې مَدَنې ګُلونه

د شيخ طريقت اَميرِ اَهلِسُنّت، بانئ دعوتِ اِسلامي **حضرت علّامه، مَولانا، ابُو بِلال محمّد اِلياس عطّار قادِري، رَضَوي** دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه دا رِساله ”قسم کے بارے میں مَدَنی پھول“ د کتاب ”نیکی کی دعوت“ نه ماخوذ ده چه په اُردو ژبه کښې ليکلې شوې دي.

مجلِسِ تراجِم (دعوتِ اسلامي) د دې رسالې په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب د ترجَمه کولو کوشش کړې دې. که چرې په دې ترجَمه کښې څه غلطي يا کمي، زياتي اوموموئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دې چه مجلِسِ تراجِم ته خبر وکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

## پیشکش: مجلِسِ تَراجِم دعوتِ اِسلامي

برائے رابطہ:

عالمی مدنی مرکز فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران

پرانی سبزی منڈی، باب المدینہ کراچی، پاکستان

**UAN:** ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 7213

**Email:** translation@dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# د قَسَم په باره کښې مَدَني ګُلونه[1]

شیطان که هر څومره ناراستي دروليِ خو تاسو دا رِساله پوره

ولولئ اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی تاسو ته به ډیر فائده مند معلومات حاصل شي

## فرښتې پرې آمِين وائي

د حضرتِ سَیِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوايت دې چه د حُضُور نبيِّ کريم صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دې: د اللّٰه تعالٰی څه سَيّاح (يعني سيل کوونکې) فرښتې دي، چه کله هغه د ذِکر د محفلونو په خوا تيريږي نو يو بل ته وائي: (دلته) کښينئ. چه کله ذاکِرين (يعني ذِکر کوونکي) دُعا کوي نو فرښتې د هغوئي په دُعا باندې اٰمِين (يعني"هم داسې دِ وشي") وائي. چه کله هغوئي په نبي صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې دُرُود شريف لولي نو هغه فرښتې هم د هغوئي سره يو ځائ دُرُود لولي تر دې چه هغه مُنتَشِر (يعني اخوا ديخوا خواره) شي، بيا فرښتې يو بل ته وائي چه د دې خوش نصيبو د پاره زيرې دي چه هغوئي د بخښنې سره بيرته روان دي. (جَمعُ الجَوامِع لِلسَّيُوطی ج ۳ ص ۱۲۵ حديث ۷۷۵۰)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

---

[1] د شيخ طريقت، اميرِ اَهلِسُنَّت، حضرتِ علّامه مولانا اَبُو بِلال محمد اِلياس عطّار قادِري رَضَوِي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه تَصنيف "د نيکئ دعوت" کښې "د قَسَم په باره کښې مَدَني ګلونه" موجود دي. د دې د اَفادِيَّت په وجه دا د رسالې په شکل کښې هُم چاپ کيږي. مَجلِسِ مَکْتَبَةُ الْمَدِينَه

www.dawateislami.net

**خوږو خوږو اسلامي وروڼږو!** نن صبا د ډېرو خلقو په خبره خبره د قسمونو خوړلو عادت عام دې، ډېر ځل د دروغو قسمونه هم خوړل شي، نه د توبه کولو نه خبر وي او نه د کَفّارې په باره کښې څه معلومات لري، لِهٰذا اُمَّت سره د ښېګړې کولو د ثواب ګټلو د حِرص په سَبَب **د نیکۍ د دعوت** په طور لږ په تفصيل سره د **قَسَم** او د هغې د **کَفّارې** په باره کښې **مَدَني ګلونه** وړاندې کووم، قبول ئې کړئ. دا د شروع نه واخله د آخِرې پورې ولولئ يا د بعضې اسلامې وروڼږو په شريکه د دې درس ورکول به صرف فائِده مند نه بلکه اِنْ شَآءَالله تَعَالٰی ډېر زيات فائِده مند به ثابت شي.

## د قَسَم تعريف

**قَسَم** ته په عَرَبي ژبه کښې"**يَمِين**" وائي او د دې مطلب دې: "ښې طرف" ولې چه عَرَبو به د **قَسَم** خوړلو يا د قَسَم ورکولو په وخت کښې يو بل له ښې لاس ورکولو ځکه د قَسَم نوم "**يَمِين**"پريوتو، يا داسې چه **يَمِين** دَ "**يُمْن**"نه جوړ شوې دې چه د دې معنٰی ده"بَرَکت او قُوّت". وَلې چه په قَسَم کښې د **الله تَعَالٰی** بَرَکَتي نوم هُم يادوي او په هغې باندې په خپله خبره کښې طاقت [يعني وزن] پيدا کوي ځکه دې ته **يَمِين** وائي يعني دَ بَرَکت او قُوَّت والا خبرې.(مُلَخَّص از مِراٰۃُالمَناجِيح.ج٥ص ١٩٤) په شرعي اِعتِبار سره قَسَم هغه **عَقْد** (يعني وعدې) ته وائي چه د هغې

www.dawateislami.net

په ذریعه قسم کوونکے د یو کار کولو یا نه کولو پخه اِراده کوي.
(دُرِّمُختار،ج۵ص۴۸۸) مَثَلاً چا داسې اُووئیل: ''قَسَم په خُدائے تَعَالیٰ! زه به صبا ستا تپول قَرض ادا کړم'' نو دا قسم دې.

## د قَسَم درې قِسمونه

قَسَم په درې قِسمه وي: (۱)لَغْو(۲) غَمُوس (۳) مُنعَقِده.

(۱) **لَغْو** دا دې چه د یو تیر شوي یا موجوده کار په باره کښې په خپل خیال کښې (یعني په ناپوهۍ کښې) هغه صحیح ګڼړي او قَسَم اُوخوري او په حقیقت کښې هغه خبره د هغې خِلاف وي، مَثَلاً چا قسم وخوړو چه:''قَسَم په خُدائے تَعَالیٰ! زَید په کور کښې نشته''او د هغه په معلوماتو کښې هم داسې وه چه زید په کور کښې نشته او هغه په خپل ګُمان کښې صحیح قَسَم خوړلې وو خو په حقیقت کښې زید په کور کښې وو نو دا قَسَم ''لَغْو'' دې، دا مُعاف دې او د دې کَفّاره نشته.

(۲) **غَمُوس** دا دې چه د یو تیر شوي یا موجوده اَمر (یعني کار) په باره کښې قصداً قَسَم اُوخوري مَثَلًا څوك قسم اُوخوري چه:''قَسَم په خُدائے تَعَالیٰ! زَید په کور کښې دې'' او هغه ته معلومه وي چه په حقیقت کښې زید په کور کښې نشته نو داسې قَسَم ته ''**غَمُوس**''

www.dawateislami.net

وائي او داسې قَسَم خوړلو والا سخت ګنهګار شو، اِستِغفار او توبه پرې فرض ده خو ګفَّاره پرې نشته.

**(۳) مُنعَقِده** دا دې چه د آئِنده د پاره قسم اُوخوري مَثَلًا داسې اووائي: "قَسَم په خُدائے تَعَالٰی! زه به صبا ستاسو کره ضرور درځم." خو صبا رانغلو نو قَسَم مات شو، هغه به ګفَّاره هم ادا کوي او په بعضو صورتونو کښې به ګنهګار هم وي. (فَتاوٰی عالمگیری ج۲ ص۵۲)

**خُلاصه** دا شوه چه قَسَم کوونکې که د يوې تيرې شوې يا موجوده خبرې په باره کښې قَسَم وکړي نو هغه به يا رِښتيني وي يا دروغژن، که رِښتيني وو نو هيڅ باك نشته او که دروغژن وي او هغه قَسَم هغه په خپل خيال کښې [يعني په ناپوهئ کښې] په رِښتيا خوړلې وو نو بيا هم باك نشته يعني ګناه هم نه ده او ګفّاره هم پرې نشته، خو که هغه ته معلومه وي چه زه د دروغو قسم خورم نو ګنهګار شو خو ګفّاره پرې نشته او که هغه د آئِنده د پاره د يو کار کولو يا نه کولو قَسَم وخوړو نو که هغه خپل قَسَم پوره کړو نو صحيح ده ګني ګفّاره به هم ورکوي او په بعضو صورتونو کښې به د قَسَم ماتولو په وجه ګُنهګار هم وي. (د دې صورتونو تفصِيل مخکښې راروان دې)

## د دروغو قَسَم خوړل ګناهِ کَبِيره ده

د رسُولِ بې مِثال صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دې:"د اللّٰه تَعَالٰی سره شِرك کول، د مور او پلار نافرماني کول، يو ساه لرونکې قتل کول او د دروغو قَسَم خوړل کَبِيره ګناهونه دي." (بُخاری ج٤ ص٢٩٥ حديث٦٦٧٥)

## د ټولو نه مخکښې د دروغو قَسَم شيطان خوړلې وو

حضرتِ سَيِّدُنا آدم صَفِيُّ اللّٰه عَلَيْهِ السَّلَام ته د سجده نه کولو په وجه شيطان مردود شوې وو لِهٰذا هغه هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام ته د نُقصان رَسَولو موقع لټوله. اللّٰه تَعَالٰی حضراتِ سيِّدَينا آدم و حَوّا عَلَيْهِمَا الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام و رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا ته فرمائيلي وو چه په جَنّت کښې اوسيږئ او چه کوم ځائ هم زړه غواړي خورئ خښبئ البتّه د دې "وَني" خوا ته مه ورځئ. شيطان په څه طريقه د حضراتِ سيِّدَينا آدم و حَوّا عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام و رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا خوا ته ور ورسيدو او ورته ئې اُووئيل: زه تاسو ته "شَجَرِخُلد" وښايم، حضرتِ سَيِّدُنا آدم صَفِيُّ اللّٰه عَلَيْهِ السَّلَام منع کړو نو شيطان قَسَم وخوړو چه زه تاسو سره ښيګړه کوونکې يم. هغوئي سوچ وکړو چه د اللّٰه پاك د دروغو قَسَم څوك خوړلې شي! چه دا سوچ ئې وکړو نو حضرتِ سيِّدَتُنا حَوّا رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا د هغې نه لږ څه وخوړل بيا ئې حضرتِ سَيِّدُنا آدم صَفِيُّ اللّٰه عَلَيْهِ السَّلَام ته ورکړل نو هغوئي هُم وخوړل. (مُلَخّص از تفسيرِ عبدُ الرَّزاق ج٢ ص٧٦)

www.dawateislami.net

څنګه چه په سيپاره ۸ سُوْرَةُ الْاَعْرَاف آيت ۲۰ او ۲۱ کښې اِرشاد شوې دې:

فَوَسْوَسَ لَهُمَا الشَّيْطٰنُ لِيُبْدِيَ لَهُمَا مَاوٗرِيَ عَنْهُمَا مِنْ سَوْاٰتِهِمَا وَقَالَ مَا نَهٰىكُمَا رَبُّكُمَا عَنْ هٰذِهِ الشَّجَرَةِ اِلَّآ اَنْ تَكُوْنَا مَلَكَيْنِ اَوْ تَكُوْنَا مِنَ الْخٰلِدِيْنَ ﴿۲۰﴾ وَ قَاسَمَهُمَآ اِنِّيْ لَكُمَا لَمِنَ النّٰصِحِيْنَ ﴿۲۱﴾

مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِيمان: بيا شيطان د هغوئې په زړونو کښې وسوسه واچوَله چه په هغوئې ښکاره کړي د هغوئې د شرم ځيزونه کوم چه د هغوئې نه پټ وو او وئيل ئې: تاسو خپل ربّ د دې وَنې نه ځکه منع کړي ئې چه تاسو چرې دوه فرښتې جوړې نه شئ يا هميشه ژوندي اوسيدونکي، او هغوئې ته ئې قَسَم وخوړو چه زه تاسو دواړو سره ښيګړه کوونکې يم.

صَدرُ الاَفَاضِل حضرت عَلّامه مولانا سَيِّد مُحَمَّد نعِيمُ الدِّين مُراد آبادي رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيْه په تَفسِير خَزَائِنُ الْعِرفان کښې ليکي: معنیٰ دا ده چه اِبلِيس مَلعُون [لعنَتي] د دروغو قَسَم وخوړلو او حضرت (سَيِّدُنا) آدم (عَلَيْهِ السَّلَام) ته ئې دوکه ورکړه او **د دروغو وړومبې قَسَم کوونکې اِبلِيس دې**، حضرتِ آدم (عَلَيْهِ السَّلَام) ګُمان هم نه لرلو چه څوک د الله تَعَالٰی قَسَم په دروغو خوړلې شي. ځکه هغوئې د هغه په خبره اِعتِبار وکړو.

## د چا د حق خوړلو د پاره د دروغو قَسَم کوونکې جَهَنَّمي دې

د نبی کریم رَءُوْفٌ رَّحِیم صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عظیم دې: څوك چه په قَسَم خوړلو د يو مسلمان حق اُووهي اللّٰه تَعَالٰی د هغه د پاره جَهَنّم واجِب کړي او په هغه باندې جَنّت حرام کړي. عرض وکړې شو: یا رسُولَ الله صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! اګرکه هغه معمولي څيز وي؟ اِرشاد ئې اُوفرمائيلو: "اګرکه د پِيلُو خاخ وي." (مُسلِم ص۸۲ حدیث ۲۱۸، (۱۳۷)) پِيلُو يوه وَنه ده چه د هغې د خانګو او جرړو نه مِسواك جوړوي.

## د دروغو قسم کونکې به په حشر کښې لاس او ښپې پريك کړي شوي وي

يو حَضرَمي (يعني د يَمَن د ښار "حَضْرَمَوت" اوسيدونکې) او يو کِندي (يعني د قبيلهٔ کِندَه يو کس) د مدينې د تاجدار صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې د يَمَن د يوې زمکې په باره کښې خپله مُقَدَّمه پيش کړه، حَضرَمي عرض وکړو: "يا رَسُولَ الله صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زما زمکه د ده پلار زما نه په زور اَغستې وه، اوس هغه د ده په قبضه کښې ده." نو نَبِيِّ اکرم صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تپوس وکړو: "آيا ستا سره څه ګواهي شته ؟" عرض ئې وکړو: "نه، خو زه به ده له قَسَم ورکووم چه د اللّٰه تَعَالٰی قَسَم دِ اُوخوري چه ده ته دا نه ده معلومه چه هغه زما

زمکه ده کومه چه د ده پلار زما نه په زور قبضه کړې وه." **کِندي** د **قَسَم** خوړَلو د پاره تیّار شو نو **رَسُولِ اکرَم** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد اُوفرمائیلو: "څوك چه (د دروغو) قَسَم اُوخوري او د چا مال لاندې کړي هغه به په بارګاهِ اِلٰهي کښې په داسې حالت کښې پیش کیږي چه دَ هغه ښپې او لاسونه به پریك کړې شوي وي."چه دا ئې واوریدل نو **کِندي** اُووئیل: دا زمکه د هغه (یعني حَضرَمي) ده.

(سُنَنِ ابو داؤد ج۳ ص۲۹۸ حدیث۳۲٤٤)

مشهور مُفَسِّر حَکِیمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد یارخان رَحْمَۃُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د دې حدیثِ پاك لاندې لیکي: سُبْحٰنَ الله! دا دې اثر د هغه مبارکې ژبې چه په دوو خبرو کښې د هغه (کِندي) د زړه حال بدل شو او رِښتیا خبره ئې وکړه او په زمکه د خپلې دعوې نه دست برداره شو. (مِرْاٰۃُ الْمَنَاجِیح ج۵ ص۴۰۳)

## د ووه زمَکو امیل

د **رِشوَتونو** په ذریعه په پرَدو ځائیونو بِلډِنګونه جوړولو والا، د خلقو نه په اِجاره اغستې د کروندې زمکې لاندې کوونکو زمیندارو، خانانو او خیانت کوونکو زمیندارو ته سخت یَریدل او فوراً توبه وِیستل پکار دي او د چا حقونه ئې چه لاندې کړي دي هغه فوراً ادا کول پکار دي ځکه چه په "**مُسلِم شریف**" کښې د **سرکارِ نامدار** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عِبرت نه ډك فرمان دې: "کوم کس چه د چا یوه

لویشت زمکه په ناحقه طور واخلي نو هغه ته به دَ قیامت په ورځ د ووه زمَکو طَوق (یعني اَمیل) ور په غاړه کړې شي.“ (صحيح مُسلِم ص٨٦٩ حديث ١٦١٠)

## عامه لار د شریعت د اِجازت نه بغیر مه ګیروئ

بعضې خلق عامه لار[دَ شریعت] دَ اِجازت نه بغیر ګیره کړي چه په هغې کښې ډېر صورتونه د خلقو د پاره د سخت تکلیف باعِث جوړیږي، مَثَلاً (۱) په غټ اختر کښې د قربانۍ څاروي د خرخولو یا په کرایه باندې د ساتلو د پاره یا د حلالولو د پاره بعضو ځائیونو کښې بعضې خلق بې د شرعي اِجازته پوره پوره کوڅې ګیرې کړي (۲) په لار کښې د تکلیف ورکوونکې حده پورې کچره [ډیران، خَزَلې] یا ملبه اچوي، د تعمیراتو د پاره غیر ضروري طور د شګو او سریا دلۍ جوړې کړي او هم دغسې د تعمیراتو پوره کیدو نه پس په میاشتو میاشتو پاتې شوې سامان او ملبه پرته وي (۳) د غم ښادۍ د دعوتونو او نیازونو [خیراتونو] په موقعو په کوڅو کښې دیګونه پخول شي او د هغې په وجه کله کله په زمکه کښې قوتې [یعني کدې] جوړې شي او بیا په هغې کښې د کچرې او ګنده اوبو په ذریعه ماشي پیدا کیږي او بیماریٔ خوریږي (٤) عامې لارې اوکنې خو د ضرورت پوره کیدو باوجود ئې نه بیرته ډکوي او نه ئې هوارَوي (۵) د اوسیدو یا کاروبار د پاره په ناجائِزه طریقه ځائیونه داسې قبضه

کړي چه [د هغې په وجه] د خلقو لار تنګه شي. د دې ټولو د پاره د غور مقام دې.د **دعوتِ اسلامي** دَ اِشاعتي اداري **مَکتَبَةُالْمَدِینه** چاپ شوي د ۸۵۳ صفحو کتاب''**جہنَّم میں لے جانے والے اعمال** (جلداوّل)'' صفحه ۸۱٦ کښې اِمام اِبنِ حَجَر مَکّي شافِعي رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه کبیره ګناه نمبر **۱۵** کښې دا فِعل (یعني دا کار) ګناهِ کبیره قرار کړې دې، فرمائي: ''په عامه لار کښې غیر شرعي تَصَرُّف کول [یعني کار لرل] چه د هغې په وجه خلقو ته سخت نُقصان رسي'' د دې په سَبَب بیانوَلو کښې لیکي: دا ځکه چه د داسې کولو په وجه خلقو ته تکلیف رسي او دا په ظلم د هغوئي حقونه لاندې کول دي. **فرمانِ مُصطفٰی** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: ''چا چه یوه لویشت زمکه د ظلم په طور واغسته، د قیامَت په ورځ به د ووه واړو زمَکو نه د هغه همره حِصّې طوق [یعني امیل] جوړ کړې شي او هغه ته به ور په غاړه کړې شي.'' (صحیح بُخاري ج۲ ص ۳۷۷ حدیث۳۱۹۸)

## د دروغو قَسَم کوِرونه ورانوي

د دروغو د قَسَم دَ نُقصاناتو نقشه زما آقا اعلٰحضرت، اِمامِ اَهلِسُنّت، مولانا شاه اِمام احمد رضا خان عَلَيْهِ رَحْمَةُ الرَّحْمٰن داسې بیان کړي ده، فرمائي: د دروغو قَسَم کوِرونه ورانوي. (فتاوٰی رَضَوِیَّه مُخَرَّجه ج٦ ص٦٠٢) په یو بل مقام کښې لیکي: د دروغو قَسَم په تیره شوې خبره

قَصداً (خوړونکي باندې اګر چه) کَفّاره نشته، خو د دې سزا دا ده چه د **جَهَنَّم په خوټکیدلو اوبو کښې به غوپې ورکولې شي.** (فتاوٰی رَضَوِیَّه ج۱۳ ص۶۱۱)

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** لږ سوچ وکړئ چه **اللہ تَعَالٰی** چا چه مونږه پیدا کړي یو، پوره کائِنات ئې تَخلِیق [یعني جوړ] کړې دې، چه هغه ته هره هره خبره ښکاره ده، یو څیز د هغه نه پټ نه دې،تر دې چه د زړونو په حال هم هغه ډیر ښه خبردار دې، هغه رحمٰن او رَحِیم هم دې او قَهَّار و جَبَّار هم دې، د هغه رَبُّ الانام په نوم اغستلو د دروغو قَسَم خوړل څومره د غټې نادانئ خبره ده او هغه هم د دُنیا د عارضي (ختمیدونکي) فائِدې یا د یو څو روپو د پاره!

## یهودیانو د شانِ مُصطفٰی پټولو د پاره د دروغو قَسَم خوړلې وو

د یهودیانو عالِمَانو او د هغوئي سردارانو ابُورافِع،کِنانه‌بِن‌اَبِي‌الْحُقَیق،کَعْب‌بِن اشرف‌او‌حُیَیِّ‌بنِ‌اَخطَب د **اللہ تَعَالٰی** هغه عهد [یعني وعده] پټه کړه کومه چه په رَسُولِ مُحتَرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې د اِیمان راوړلو مُتَعَلِّق په تَورِیت شرِیف کښې اغستې شوې وه. هغه داسې چه هغوئي هغه [آیتونه] بدل کړل او د هغې په ځائ ئې په خپلو لاسو بل څه ولیکل او **د دروغو قَسَم** ئې وخوړو چه دا د **اللہ تَعَالٰی** د طرفه دي، دا هر څه هغوئي د خپلې ډلې د جاهِلانو نه د رِشوَتونو او مال و زر حاصِلولو د پاره کړي وو. د هغوئي په باره کښې دا آیتِ مُبارکه نازِل شو:

اِنَّ الَّذِيۡنَ يَشۡتَرُوۡنَ بِعَهۡدِ اللّٰهِ وَ اَيۡمَانِهِمۡ ثَمَنًا قَلِيۡلًا اُولٰٓـئِكَ لَا خَلَاقَ لَهُمۡ فِى الۡاٰخِرَةِ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ اللّٰهُ وَلَا يَنۡظُرُ اِلَيۡهِمۡ يَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ وَلَا يُزَكِّيۡهِمۡ وَلَهُمۡ عَذَابٌ اَلِيۡمٌ ﴿۷۷﴾ (پ3 آل عمران ۷۷)

مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِیمان : خوك چه د الله د عهد او د خپلو قَسَمونو په بدله کښې د دُنیا ذلیل قِیمَت اخلي په آخِرت کښې د هغوئي هیڅ حِصّه نشته او الله به نه د هغوئي‌سره خبرې کوي او نه به د هغوئي طرف ته نظر فرمائي د قِیامت په ورځ، او نه به هغوئي پاك کوي او د هغوئي د پاره دردناك عذاب دي.

(تفسیرِ خازن ج۱ ص۲۶۵)

## شِین سترګي مُنافِق

یو مُنافق چه نوم ئي عَبدُالله بِن نَبتَل ووهغه به د رسُولِ اکرَم صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مَجلِس کښې حاضر اوسیدو او د دې ځایٔ خبره به ئي یهودیانو ته رَسَوَله، یوه ورځ حُضُورِ اَقدس صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خپل مبارك کور کښې تشرِیف فرما وو، حُضُور صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائیل: اوس به یو سړي راځي چه د هغه زړه ډېر زیات سخت دي او د شیطان په سترګو ګوري، په لږ ساعت کښې عَبدُالله بِن نَبتَل راغي، د هغه سترګي شني وې، حضور سَیِّدِ عالَم صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه ته اُوفرمائیل: ته او ستا ملګري مونږ ته ولې کنزلې کوئ؟ هغه قَسَم وخوړو چه زه داسې نه کووم او خپل ملګري ئي راوستل، هغوئي

هم قَسَم وخوړو چه مونږه تاسو ته کنزلي نه دي کړي، په دې باندې دا آيت کريمه نازل شو:

اَلَمۡ تَرَ اِلَى الَّذِيۡنَ تَوَلَّوۡا قَوۡمًا غَضِبَ اللّٰهُ عَلَيۡهِمۡ ؕ مَا هُمۡ مِّنۡكُمۡ وَلَا مِنۡهُمۡ ۙ وَيَحۡلِفُوۡنَ عَلَى الۡكَذِبِ وَهُمۡ يَعۡلَمُوۡنَ ﴿۱۴﴾ (پ۲۸ مجادلة ۱۴)

مفهوم ترجمهٔ كنزُالإيمان: آيا تاسو هغوئي ونه ليدل څوك چه د داسې خلقو دوستان شو په چا چه د الله غَضَب دې، هغوئي نه ستاسو نه دي او نه د هغوئي نه، هغوئي د دروغو قَسمونه خوری. (خزائِنُ العِرفان)

## جَهَنَّم ته د بوتلو حُکم به وشي

منقول دي چه د قيامت په ورځ به يو کس د الله تَعَالٰی په بارګاه کښې ودرولې شي، الله تَعَالٰی به د هغه جَهَنّم ته د بوتلو حُکم اُوفرمائي. هغه به عرض کوي: يا الله! زه په څه وجه جَهَنَّم ته ليږلې شم؟ ارشاد به وشي: لـمونځونه د هغې د وخت تيرولو نه پس کولو او زما د نوم د دروغو قَسمونو خوړولو په وجه. (مُکاشَفَةُ القُلوب ص۱۸۹)

## د دروغو قَسَم خوړلو والا تاجِر د پاره درد ناك عذاب دې

حضرت سَيِّدُنا اَبوذر غِفاري رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنۡهُ نه رِوايت دې چه د الله تَعَالٰی مَحبوب صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلې دې: ”درې کسان داسې دي چه د هغوئي سره به الله تَعَالٰی نه خبرې کوي او نه به په هغوئي د

www.dawateislami.net

کرم نظر فرمائي او نه به هغوئي پاك كوي بلكه د هغوئي د پاره دردناك عذاب دي.“ هغوئي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي چه د **اللّٰه تَعَالٰی** حَبِيب صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دا خبره درې ځله ارشاد اُوفرمائيله نو ما عرض وكړو: هغوئي خو تباه او برباد شو، هغه خلق څوك دي؟ ارشاد ئې اُوفرمائيل: (۱) په تکَبُّر خپل لَنګ [پرتوګ وغيره د ګِيټو/ پړکو نه ښکته] زوړندَولو والا او (۲) احسان زبَاتَلو [يعني يادولو] والا او (۳) د دروغو په قَسَمونو خوړلو خپل مال خرخوونکې. (صحيح مُسلِم ص٦٧ حديث١٧١(١٠٦))

## د دروغو په قسم بَرَكت ختم شي

د دې رِوايت نه دِ خصوصاً هغه تاجِران او دُكانداران عِبرَت واخلي څوك چه د **دروغو په قَسَمونو** خوړلو خپل مال خرڅوي، د څِيزونو عيبونه پټولو او په بيكاره او خراب مال باندې زياته ګټه حاصلولو د پاره بې شميره **قَسَمونه** خوري او په دې د هيڅ قِسم شرم نه **محسوسوي**، د دوئي د پاره د شرم مقام دې ځکه چه د **رَسُولِ اكرم** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ دې: د دروغو په **قَسَم** سودا خرڅه شي او بَرَكت ختم شي. (كَنزُ العُمّال ج١٦، ص٢٩٧ حديث٤٦٣٧٦) يو بل ځائ کښې فرمائي: ”**قَسَم** سامان خرڅولو والا دې او بَرَكت ختمولو والا دې.“ (صحيح بُخارى ج٢ ص١٥ حديث٢٠٨٧)

**مشهور مُفَسِّر حَكِيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د دې حديثِ پاك نه لاندې فرمائي: د بَرَكت ختميدو نه مُراد آئِنده د

کاروبار بندیدل وي یا په روان کاروبار کښې نُقصان کیدل وي، یعني که تا د **دروغو په قَسَم** په چا خراب مال خرڅ کړو نو هغه خو به یو ځل دوکه اُوخوري خو بیا به نه راځي او بل ته به هُم وائي چه مه ورځه، او کوم رقم چه تا د هغه نه حاصل کړو په هغې کښې به بَرَکت نه وي ځکه چه په حرام کښې بَرَکت نه وي. (مِراٰۃُالمَناجِیح ج٤ص٣٤٤)

## د خِنزِیر په شان مرې

د **دعوتِ اسلامي** د اشاعتي اداري **مَکْتَبَۃُالْمَدِیْنَه** د (٣٢ صفحو) په رِساله "**کفن چوروں کے اِنکِشافات**" کښې دي: **یو** ځل د خلیفه عبدُالمَلِك خوا ته یو کس یَریدلي حاضر شو او وئیل ئې: **بادشاه سَلامت!** زه ډیر زیات ګُنهګار یم اودا معلومات غوارم چه آیا زمادپاره مُعافي شته او که نه؟ **خَلیفه** اُووئیل: آیا ستا ګناه د زمکې او د آسمان نه هم غټه ده؟ هغه اُووئیل: آو غټه ده. **خَلیفه** تپوس وکړو: آیا ستا ګناه د لَوح و قلم نه هم غټه ده؟ هغه جواب ورکړو: آو غټه ده. **خَلیفه** بیا تپوس وکړو: آیا ستا ګناه د عرش او کُرسۍ نه هم غټه ده؟ هغه جواب ورکړو: آو غټه ده. **خَلیفه** اُووئیل: وروره یقیناً ستا ګناه د **اللّٰه تَعَالٰی** د رَحمت نه غټه نه شي کیدې. دا ئې چه واوریدل نو [د اللّٰه تَعَالٰی د رحمت په اُمِّید] د هغه د سترګو نه اوښکې رواني شوې او په چغو چغو په ژړا شو. خلیفه اُووئیل: ورورہ آخِر تا داسې کومه ګُناه کړې ده! هغه اُووئیل:

صاحِبه! زه ډېر سخت شرمِنده یم خو بیا ئې هم تاسو ته عرض کووم، د دې د پاره چه کیدې شي زما د توبې څه لار راأوځي. بیا هغه خپل **خوفناك داستان** اوروِل شروع کړل: وئیل ئې: بادشاه سلامت! زه د **کفنونو غل** یم، نن شپه ما د **پینځؤ قبرونو** نه عِبرت حاصِل کړو او توبه وِیستلو ته تیار شوم. بیا هغه د پینځؤ قبرونو عِبرتناك حالات بیان کړل، د **یو قبر حال** هغه داسې بیان کړو: د **کفن** غلا کولو د پاره چه کله ما **دویم قبر** اوکنستلو نو یو خوفناك منظر مې ولیدو! څه وِینم چه د **مړي مخ د خِنزیر په شان شوې دې او هغه په زنځیرونو تړلې شوې دې.** غیبي آواز راغلو: ده به د **دروغو قَسَمونه** خوړل او **حرامه روزي** به ئې کَتله. (ماخوذاَز تَذکِرَۃُالواعِظِین ص٦١٢)

## په زړه تور ټکي

د خاتَمُ المُرسَلِین، رَحمَۃٌ لِّلعٰلَمِین صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عِبرت نه ډك فرمان دې: ”څوك چه قَسَم اُوخوري او په هغې کښې د ماشي د وَزَر هُمره دروغ شامِل کړي نو هغه ”قَسَم“ به دَ قِیامت د ورځې پورې د هغه په زړه باندې (تور) ټکې جوړ شي.“ (اِتحافُ السّادۃ لِلزَّبِیدی ج٩ص٢٤٩)

## قَسَم دِ صِرف د رِښتیاؤ خوړل شي

**خوږو خوږو اِسلامي ورونړو!** وَیَرېږئ! ولړزیږئ!! یَقِیناً د اللہ تَعَالٰی عذاب هیڅ څوك هم نه شي برداشت کولې که په تیر شوي وخت

www.dawateislami.net

کښې مو د **دروغو قَسمونه** خوړلي وي نو فوراً توبه اوباسئ او دا خبره ښه پخه ياده ساتئ چه که چرې دَ قَسَم خوړولو حاجت پيښ شي نو صِرف او صِرف د **رښتياؤ قَسَم** خورئ.

## د مُسلمان په قَسَم يقِين کول پکار دي

که يو مسلمان زمونږ په مخکښې په يوه خبره **قَسَم** اُوخوري نو مونږ ته ښه ګُمان ساتل پکار دي او د هغه په خبره يقين کول پکار دي، اِمام شَرَفُ الدِّين نَوَوِي رَحۡمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَيۡه فرمائي چه د مسلمان ورور په قَسَم اِعتِبار کول او هغه پوره کول مُستَحَب دي په شرط د دې چه د فساد وغيره اِمکان پکښې نه وي. (شرحِ مُسلِم لِلنَّوَوِی ج١٤ ص٣٢)

## تا غلا نه ده کړې

حضرتِ سَيِّدُنا ابُو هُريره رَضِیَاللهُتَعَالٰیعَنۡهُ فرمائي: د الله تَعَالٰی د **مَحبُوب** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عالي شان دې: (حضرت) عِيسیٰ بِن مريم يو کس په غلا کولوليدو نو هغه ته ئې اُوفرمائيل: ”تا غلا وکړه“ هغه اُووئيل: ”بالکل نه، په هغه [ذات] مې دِ قَسَم وي د چا نه سِوا چه هيڅ څوك د عِبادت لائِق نشته“ نو (حضرت) عِيسٰی (عَلَيۡهِ السَّلَام) اُوفرمائيل: ما په الله ايمان راوړو او خپل ځان مې دروغژن کړو.

(صحيح مُسلِم ص١٢٨٨ حديث٢٣٦٨)

## مومِن په دروغو د اللّٰه تعالیٰ قَسَم څنګه خوړلې شي

اللّٰهُ اَکبر! تاسو وليده! حضرت سَيِّدُنا **عيسیٰ روحُ اللّٰه** عَلَيۡهِ السَّلَام د قَسَم خوړلو والا سره څومره عظيم سلوك وکړو. مشهور **مُفَسِّر حَکِيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحۡمَةُاللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيۡه د هغه قسم خوړلو والا د پريښودو په باره کښې د حضرت سَيِّدُنا **عِيسیٰ رُوحُ اللّٰه** عَلَيۡهِ السَّلَام مُقَدَّس جذبات داسې بيانوي: يعني د دې قَسَم په وجه تا رِښتينې ګڼړم ځکه چه مومِن بنده په دروغو د **اللّٰه** (تعالیٰ) قَسَم نه شي خوړلې وَلې چه د هغه په زړه کښې د اللّٰه (تعالیٰ) د نوم تعظِيم وي، د خپل ځان مُتَعَلِّق د غلط فهمۍ ګُمان کووم چه زما سترګو په کتلو کښې غَلَطي وکړه.(مِراٰة ج٦ ص٦٢٣)

د اللّٰه تَعَالٰی دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الۡاَمِين صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## قرآن راپورته کول قَسَم دې که نه؟

د قُرآنِ کريم قَسَم خوړل، قَسَم دې، البَتّه قُرآنِ کريم صِرف راپورته کول يا په مينځ کښې اينبودل او په هغې لاس اينبودل او بيا څه خبره کول قَسَم نه دې. ”**فتاوٰی رَضَوِيّه**“ جِلد13 ص574 کښې دي: د دروغو په خبره د قُرآنِ مجيد **قَسَم خوړل** سخته عظِيمه ګُناهِ کبيره ده او په رښتيا خبره د قُرآنِ مجيد قَسَم خوړلو کښې باك نشته او که ضرورت

وي نو [د قَسَم په وخت کښې ئې] په لاس کښې راغستې هم شي خو داسې کول **قَسَم** ډېر زيات سخت کړي، بې ضرورته داسې کول نه دي پکار. او په صفحه 575 کښې دي: خو مُصحَف (يعني قرآن) شريف په لاس کښې نيول يا پرې د پاسه لاس کيښودل او څه خبره کول که د **حَلْف** او قَسَم سره نه وي نو شرعي قَسَم به نه ګڼړل شي (قُرآنِ کريم صِرف راپورته کول يا په هغې لاس ايښودل يا په مينځ کښې ايښودل به شرعاً قَسَم نه ګڼړل شي) مَثَلًا که داسې اووائي چه زه په قرآنِ **مجيد** لاس کېږدم او وايم چه داسې به کووم او بيا هغسې ونکړي نو کَفَّاره به پرې نه راځي [ځکه چه شرعي قَسَم نه وو شوې] وَاللهُ تعالىٰ اَعْلَم.

## دوه عِبرت ناکې فتوې

### (١) شرابي قُرآن راواغستو او قسم ئې وکړو، بيائې مات کړو!!!

**فتاوٰى رَضَوِيّه** جِلد ١٣ صفحه ٦٠٩ کښې د يو شرابي په باره کښې د حُکم معلومولو د پاره څه داسې تپوس شوې دې چه هغه د څلورو ګواهانو په مخکښې **قرآنِ مجيد** راواغستو او قَسَم ئې وخوړو چه بيا به شراب نه څښم خو بيا ئې وڅښل. د دې د تفصيلي جواب په آخِره کښې اعلىٰ حضرت رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيه فرمائي: که هغه قرآن راغستې وو او د قرآن په نوم ئې **قَسَم** خوړلې وو يا ئې د **الله تَعَالٰى** په نوم قَسَم خوړلې وو او په ژبه ئې ادا کړې وو او بيا ئې قَسَم مات کړې دې

نو په هغه کَفَّاره لازِم ده که هغه قرآنِ مجید راغستې وو او قَسَم ئې خوړلې وو نو دا ډیره سخته خبره ده چه قرآن ئې راغستې وو او بیا ئې د دې خلاف ورزي کړې ده او بیا ئې د شرابو نشه وکړه د دې نه د قرآن مجید توهِین [یعني بې ادبئ] ته خبره ورسیده او هغه د قرآن عظیم حق وهلې دې نو په دې سخت کار باندې (یعني چه د قَسَم لفظ ئې نه وي وئیلې او صِرف قرآنِ مجید ئې په لاس کښې راغستې وي نو په دې باندې) **کَفَّاره** نشته بلکه د دې د پاره په هغه باندې لازم دي چه فوراً توبه وکړي او د هغه بد کار (یعني د شرابو نشه) آئِنده د نه کولو پوخ نِیَّت وکړي ګنې د الله تَعَالٰی د طرفه دِ د دردناك عذاب او د جَهَنّم د اور اِنتِظار وکړي.

وَالْعِیاذُ بِاللّٰهِ تعَالٰی (یعني او د هغې نه د الله تَعَالٰی پناه). او که په ژبه ئې قَسَم نه وي ادا کړې بلکه هُم هغه قرآن راغستل ئې قَسَم ګڼرلې وي نو د هغې هم هغه حُکم دې چه په هغې کَفَّاره نشته بلکه د درد ناك عذاب اِنتِظار دِ کوي.

## (۲) د دروغو قَسَم خوړونکي ته به دَ جَهَنّم په خوټکیدلي دریاب کښې غوپې ورکولې شي

سوال: په دروغو د الله تَعَالٰی د قَسَم خوړلو څه کفّاره ورکول پکار دي؟ او که په یو وخت کښې ډیر ځله په دروغو د الله تَعَالٰی قَسَم اُوخوري نو یوه **کفّاره** ورکړي یا د هر قَسَم جُدا جُدا [کفّاره ورکړي]؟

**جواب**: د دروغو قَسَم ئې که په تيره شوې خبره قصداً وخوړو نو د هغې هيڅ کفّاره نشته، د دې سزا دا ده چه **د جَهَنّم په خوټ کيدلې درياب کښې به غوپې ورکولې شي.** او که د آئِنده [راتلونکي وخت] په څه خبره ئې **قَسَم** وخوړو او هغه ونشوه نو د هغې کفّاره شته دې، که يو قَسَم ئې خوړلې وي نو يوه او که لس ئې خوړلې وي نو لس [کفّارې دي].
وَاللّٰهُ تَعَالٰی اَعۡلَم (يعنې اللّٰه تَعَالٰی د ټولو نه زيات پوهيږي)

## د ډيرو قَسَمونو خوړلو مُمَانَعَت

د رَبِّ کريم جَلَّجَلَالُهٗ په دويمه سيپاره سُوۡرَةُ الۡبَقَرَه آيت ٢٢٤ کښې فرمانِ عظيم دې:

وَ لَا تَجۡعَلُوا اللّٰهَ عُرۡضَةً لِّاَيۡمَانِكُمۡ

مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِيمان: او اللّٰه د خپلو قَسَمونو نښه مه جوړوئ.

صدرُ الاَفَاضِل حضرت علّامه مولانا سَيِّد **مُحَمَّد نعِيمُ الدِّين مُراد آبادي** رَحۡمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيۡه د دې آيت نه لاندې ليکي: بعضې مُفَسِّرِين (رَحِمَهُمُ اللّٰه تَعَالٰی) دا هم ليکي چه د دې آيت نه په کثرت سره د قَسَم خوړلو نه مُمَانَعَت ثابتيږي. (حاشِيةُ الصَّاوِی ج١ ص١٩٠) حضرت سَيِّدُنا اِبراهِيم نَخَعِي رَحۡمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيۡه فرمائي: چه کله مونږه ماشومان وو نو زمونږه مشرانو به په قَسَم خوړلو او په وعده کولو مونږه وهلو. (صحيح بُخاری ج٢ ص٥١٦ حديث٣٦٥١)

تُو جھوٹی قسموں سے مجھ کو سدا بچا یا ربّ! نہ بات بات پہ کھاوں قسم، خدا یا ربّ!

د دروغو د قَسَم نه مې کړې بچ سدا یا ربّ!
چه نه خورم په خبره خبره قَسَم خُدا یا ربّ!

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## "چپ اوسه سلامت به ئې" د پینځلّس حروفو په نِسبَت د قَسَم مُتعَلِّق ۱۵ مَدَني ګلونه

د **دعوتِ اسلامي** د اشاعتي اداري مَکتَبَةُ الْمَدِینه چاپ شوي د ۱۱۸۲ صفحو کتاب **بهارِشریعت** جِلد ۲ صفحه ۲۹۸ نه ۳۱۱ پورې او ۳۱۹ نه د قَسَم او د هغې د کفّارې مُتعلِّق **۱۵ مَدَني ګلونه** وړاندې کیږي، (ضرورتاً بعضې بعضې ځائ کښې تَصَرُّف شوې دې)

## په خبره خبره قَسَم خوړل نه دي پکار

(۱) قَسَم خوړل جائِز دي خو چه څومره کیدې شي کمې پکښې غوره دې او په خبره خبره **قَسَم** خوړل نه دي پکار او بعضو خلقو قَسَم خپل عادت جوړ کړې وي او په اِراده یا بې اِراده ئې په ژبه (قَسَم) راځي او د دې هم پرواه نه کوي چه خبره رښتیا ده او که دروغ! دا ډیر سخت عیب دې او د غیرِ خُدا **قَسَم** مکروه دې او دا شرعاً **قَسَم** هم نه دې یعني د دې په ماتولو **کَفّاره** نه لازِمه کیږي.

## که په غَلَطئ ئې قَسَم وخوړلو نو؟

(۲) که په **غَلَطئ** ئې **قَسَم** وخوړلو مَثَلاً دا ئې وئيل غوښتل چه اوبه راوړه يا اوبه به څښم خو د خُلې نه ئې او وتل چه "**قَسَم** په خُدائے اوبه به نه څښم" نو دا هم قَسَم دې که مات ئې کړو نو **کَفّاره** به ورکوي. (بهارِ شرِيعت ج۲ ص۳۰۰)

(۳) **قَسَم** ماتول که په خپل اختيار وي يا د بل په **مجبوره** کولو وي، قصداً (يعني په اِراده سره) وي يا په هيره، په هر صورت کښې پرې **کَفّاره** شته دې بلکه که په بيهوشئ يا جُنون [يعني ليونتوب] کښې ترې قَسَم مات شو بيا هم پرې کَفّاره واجِب ده هله چه په هوش کښې ئې قَسَم خوړلې وو او که په بيهوشئ يا جُنُون (يعني ليونتوب) کښې ئې قَسَم وخوړو نو دا قَسَم نه دې ځکه چه عاقِل کيدل شرط دې او دا عاقِل نه دې. (تَبيِينُ الحقائِق ج۳ ص٤٢٣)

## داسې الفاظ چه هغه قَسَم نه وي

(٤) دا الفاظ قَسَم نه دي اګر چه د دې په وئيلو به ګنهګار وي هله چه په خپله خبره کښې دروغژن وي: که زه داسې وکړم نو په ما دِ د الله (تعالیٰ) غَضَب وي. په ما دِ د هغه لعنت وي. په ما دِ د هغه عذاب وي. په ما دِ د خُدائے قَهر نازل شي. په ما دِ آسمان راپريوځي. ما دِ زمکه

ژوندې راښکارېږي. ما دِ خُدائے اووهي. په ما دِ د خدائ لعنت وي.د رسولُ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شَفاعَت مې دِ نصيب نه شي. زما دِ د خدائے ديدار نصيب نه شي. دَ مرګ په وخت کښې مې دِ کَلِمه نصيب نه شي. (فتاوٰی عالمگیری ج۲ ص۵٤)

# د قَسَم خلور قِسمونه

(٥) بعضې قَسَمونه داسې وي چه د هغې پوره کول ضروري وي، [اوّل] مَثَلاً د داسې کار کولو **قَسَم** ئې وخوړو چه د هغه کار **بې قَسَمه** پوره کول هُم ضروري وو يا ئې د ګناه نه د بچ کيدو **قَسَم** وخوړو (ځکه چه د ګناه نه د بچ کيدو قَسَم ونه خوري بيا هم د ګُناه نه بچ کيدل ضروري دي) نو په داسې صورت کښې قَسَم رښتيا [يعني پوره] کول ضروري دي. مَثَلًا دا ئې أووئيل چه قَسَم په خدائے د ماسپښين لمونځ به ضرور کووم، يا غلا يا زِنا به نه کووم. (د قَسَم) **دويم** (قِسم) هغه دې چه د هغې ماتول ضروري وي مَثَلًا د ګناه کولو يا د فرائِضو او واجِباتو نه ادا کولو **قَسَم** ئې وخوړو، لکه داسې **قَسَم** اُوخوري چه لمونځ به نه کووم يا به غلا کووم يا به د مور او پلار سره خبرې نه کووم نو قَسَم دِ مات کړي. **دريم** هغه چه د هغې ماتول مُستَحَب دي مَثَلًا چه د داسې اَمر (يعني کار) قَسَم ئې وخوړو چه د هغې نه علاوه [بل کار] غوره وي نو دا **قَسَم** دِ مات کړي او هغه دِ

www.dawateislami.net

وکړي کوم چه غوره دي. **خلورم** هغه چه د مُباح قَسَم ئې وخوړو يعني (د کوم کار) چه کول او نه کول يو شان وي په هغې کښې د قَسَم باقي ساتل [يعني حِفاظت کول] غوره دي. (المَبسُوط لِلسَّرخسی ج٤ ص١٣٣)

(٦) د اللہ تَعَالٰی چه هر څومره نومونه دي په هغو کښې چه په کوم نوم قَسَم اُوخوري قَسَم به وشي اګرکه په عامو خبرو کښې په هغه نوم قَسَم خوړل شي او که نه. مَثَلًا په اللہ تَعَالٰی مې دِ قَسَم وي، په خُدائے مې دِ قَسَم وي، په رَحمٰن مې دِ قَسَم وي، په رَحِيم مې دِ قَسَم وي، په پروردګار مې دِ قَسَم وي، هم دغه شان د اللہ تَعَالٰی د کوم صِفَت قَسَم چه خوړل کيږي د هغې قَسَم ئې وخوړو نو قَسَم وشو مَثَلًا د خُدائے په عِزّت و جلال مې دِ قَسَم وي، د هغه په کِبريائي مې دِ قَسَم وي، د هغه په بُزُرګئ يا په لوئي والي مې دِ قَسَم وي، د هغه په عَظَمَت مې دِ قَسَم وي، د هغه په قُدرت او طاقت مې دِ قَسَم وي، په قرآن مې دِ قَسَم وي، په کلامُ الله مې دِ قَسَم وي.

(٧) په دې الفاظو هُم قَسَم کيږي: حَلفيه وايم. قَسَم خورم. زه شهادت [ګواهي] ورکووم. اللہ ګواه کووم چه داسې خبره ده. زما دِ قَسَم وي. لَآ اِلٰهَ اِلَّا الله زه به داسې کار نه کووم. (اَيضاً)

## داسې قَسَمونه چه د هغې په ماتَولو کښې د کُفر ويره ده

(٨) که دا کار وکړم يا مې کړې وي نو يهودي به يم يا نصراني يا

www.dawateislami.net

کافِر يا د کافرو ملګرې به يم. يا د مرګ په وخت کښې مې دِ اِيمان نصيب نه شي. بې اِيمانه دِ مړ شم. کافِر دِ د دُنيا نه لاړ شم. او دا الفاظ ډير سخت دي ځکه چه که د دروغو داسې **قَسَم** ئې وخوړو يا ئې داسې **قَسَم** مات کړو نو په بعضو صورتونو کښې به کافِر شي. خوك چه داسې **قَسَم** په دروغو اُوخوري د هغه په باره کښې ئې په حديث کښې فرمائيلي دي: "**هغه هُم هغسې دې شنګه چه هغه اُووئيل**" يعني که د يهودي کيدو قَسَم ئې خوړلې وي نو يهُودي شو. هُم دغسې ئې که او وئيل: "اللّٰه ته معلومه ده چه ما داسې نه دي کړي." او دا خبره هغه دروغ وکړه نو د اکثرو عُلَماوُ په نِزد کافِر دې. (بهارِ شريعت ج۲ ص۳۰۱)

## يو څيز په ځان حرامول

(۹) خوك چه يو څيز په ځان حرام کړي مَثَلًا اووائي **چه فلانکې څيز په ما حرام دې** نو په دې وئيلو به هغه څيز حرام نه شي ځکه چه **اللّٰه** (تعالیٰ) يو څيز حلال کړې وي هغه خوك حراموليې شي؟ خو (چه يو څيز ئې په ځان حرام کړو) د هغې په کار راوستلو (يعني اِستِعمالولو) به کفّاره لازِميږي يعني دا هُم قَسَم دې. (تَبيِينُ الحقائِق ج۳ ص٤٣٦) **ستا سره خبرې کول حرام دي** دا (هُم) قَسَم دې. که خبرې ئې وکړې نو کَفّاره به پرې لازِمه وي. (فتاوٰی عالمگيری ج۲ ص٥٨)

# د غیرِ خُدا قَسَم "قَسَم" نه دې

(۱۰) د غیرِ خُدا قَسَم "قَسَم" نه دې مَثَلًا ستا قسم. د ځان قَسَم. ستا د ژوند قَسَم. د خپل ژوند قَسَم. ستا د سر قَسَم. د خپل سر قَسَم. د سترګو قَسَم. د ځوانئ قَسَم. د مور او پلار قَسَم. د اولاد قَسَم. د مَذهب قَسَم. د دِین قَسَم. د عِلم قَسَم. د کعبې قَسَم. د عرشِ اِلٰهی قَسَم. د **رسولُ الله** قَسَم. (اَیضاًص۵۱)

(۱۱) په خدائے او په رسُول مې دِ قَسَم وي دا کار به نه کووم دا قَسَم نه دې. (اَیضاًص۵۸،۵۷)

(۱۲) که دا کار مې وکړو نو د کافِرو نه دِ بدتر شم (که دا ئې اُووئیل) نو (دا) قَسَم دې او که داسې ئې اُووئیل چه که دا کار مې وکړو نو کافِر به زما نه غوره [یعنې افضل] وي نو دا قَسَم نه دې. (اَیضاً ص۵۸)

# د بل کس په قَسم ورکولو قَسم نه کیږي

(۱۳) د بل کس په قَسَم ورکولو قَسَم نه کیږي مَثَلاً دا ئې اُووئیل چه: ستا دِ په خُدائے قَسَم وي دا کار وکړه. نو په داسې وئیلو (چا ته ئې چه اُووئیل) د هغه قَسَم ونشو یعنې [د هغه کار] په نه کولو پرې کَفّاره نه لازِمیږي. یو کس د چا خوا ته ورغلو هغه راپاڅیدو ته ځان تیار کړو ده ورته اُووئیل: **قَسَم په خُدائے** مه راپاڅه او (چا ته ئې چه

اُووئيل) هغه راپاڅيدو [يعني ودريدو] نو په هغه قَسَم خوړولو والا کَفّاره نشته. (فتاوٰی عالمگیری ج ٢ ص ٥٩،٦٠)

(١٤) دلته يوه قاعِده ياد ساتل پکار دي چه د هغې په قَسَم کښې هر ځائ لِحاظ ساتل ضروري دي هغه دا چه د قَسَم د تولو الفاظو نه به هغه معني اغستې شي په کومو [معنو] کښې ئې چه اهلِ عُرف [يعني د هغه ځائ د رواج مطابق] اِستعمالوي مَثَلًا چا قَسَم وخوړو چه يو مکان ته به هم نه ځم او جُمات يا خانه کعبې ته لاړو نو قَسَم ئې مات نه شو اګرچه دا هم مکانونه دي، هم دغسې حَمّام [غسل خانې] ته په تلو کښې به هم دا قَسَم نه ماتيږي. (فتاوٰی عالمگیری ج٢ ص٦٨)

## په قَسَم کښې د نِيَّت او غَرَض اِعتبار نشته

(١٥) په قَسَم کښې به د الفاظو لِحاظ ساتل شي، د دې خبرې لحاظ به نه کيږي چه د دې قَسَم غَرَض [يعني مطلب] څه دې يعني د هغه الفاظو چه په خبرو اَترو کښې کومه معنٰی وي هغه به مُراد ګڼړله شي د قَسَم خوړولو والا د نِيَّت او مقصد اعتِبار به نه وي مَثَلًا قَسَم ئې وخوړو چه "د فلانکي د پاره به د يوې پيسې يو څيز هم نه اخلم" او د يوې روپۍ څيز ئې ورله واخستو نو قَسَم مات نه شو حالانکه د دې خبرې مَطلب دا وي چه نه به ورله د پيسې اخلم او نه د روپۍ خو د دې لفظ دا معنٰی نه ګڼړل شي لِهٰذا د دې اِعتِبار نشته او يا ئې قَسَم

وخوړو چه "په دروازه به باهر نه اُوځم" او په ديوال واوښتو يا ئې پوړۍ ولګوله او [په هغې] باهر ته لاړو نو قَسَم مات نه شو اګرچه د دې مطلب دا دې چه د کور نه به باهر نه اُوځم. (دُرِّمُختار و رَدُّالمُحتار ج٥ ص٥٥٠)

په دې باره کښې دَ حضرت سَيِّدُنا اِمام اعظم رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰى عَلَيْه يو حِکايت واورئ چنانچه:

## د اَګئ نه خوړلو قَسَم ئې وکړو

يو کس قَسَم وخوړو چه اګئ به نه خورم او بيا ئې دا قَسَم وخوړو چه کوم څيز چه د فلانکي کس په جيب کښې دې هغه به ضرور خورم. بيا ئې چه وکتلو نو د هغه په جيب کښې اګئ وه. د کروړونو حَنَفيانو عظيم اِمام حضرت سَيِّدُنا اِمام اعظم ابو حنيفه رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰى عَلَيْه نه تپوس وکړې شو نو وئې فرمائيل: هغه اګئ يوې چرګې ته کيږدئ او چه کله ترې چرګوټې رااُوځي نو هغه دِ سُورکړي او بيا دِ ئې اُوخوري يا دِ پکښې ښوروا پخه کړي او د ښوروا سره دِ ئې اُوخوري. (په دې صورت کښې به قَسَم پوره شي) (الخيراتُ الحِسان ص١٨٥)

د اللّٰه تَعَالٰى دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه وشي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د قَسَم بعضې الفاظ

که وَاللّٰه بِاللّٰه تَاللّٰه ئې اُووئيل نو درې قَسَمونه شو. په خُدائے چه،

قَسم دې چه، بَحَلفِ شرعي وايم، اللہ حاضِر ناظِر ګنړم او وايم. اللہ سَمِيع اوبَصِير ګنړم او وايم. BY GOD دا ټول د قَسَم الفاظ دي. ''اللہ حاضِر ناظِر ګنړم او وايم'' داسې وئيلو سره خو به قَسَم وشي خو اللہ تَعَالٰی ته حاضِر ناظِر وئيل ممنوع [يعني منع] دي.

## د سرکارِ مَدينه ﷺ د قَسَم کولو الفاظ

نَبِيِّ کَرِيم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به اکثر ''وَمُقَلِّبِ الْقُلُوب'' (يعني قَسَم دې د زړونو د بدلولو والا) يا ''وَالَّذِىۡ نَفۡسِىۡ بِيَدِهٖ'' (يعني قَسَم دې په هغه د چا په مبارك لاس کښې چه زما ساه ده) په الفاظو قَسَم اِرشاد فرمائيلو ځنګه چه حضرت سَيِّدُنا اِبنِ عُمَر (رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنۡهُمَا) نه رِوايت دې چه رَسُولِ اکرم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به چه زيات تر کوم قَسَم اِرشاد فرمائيلو هغه دا وو: وَمُقَلِّبِ الْقُلُوب يعني قَسَم دې د زړونو د بدلَولو والا.

(بُخاری ج٤ ص٢٧٨ حديث٦٦١٧)

## د حضور ﷺ قَسَم خوړل

د دعوتِ اسلامي د اِشاعتي اداري مَکۡتَبَةُ الۡمَدِيۡنَه په چاپ شوي د ٥٦١ صفحو کتاب ''ملفوظاتِ اعلٰی حضرت'' صفحه ٥٢٨ کښې دي چه اعلٰی حضرت، اِمامِ اَهلِسُنَّت، مولانا شاه اِمام احمد رضا خان رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيۡه ته عرض وکړې شو:[کهځوك]د حُضُور (صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) قَسَم اُوخوري او د هغې خِلاف وکړي نو کَفّاره به پرې لازميږي که نه؟ نو وئې فرمائيل: نه. (فتاوٰی عالمگيری ج٢ ص٥١)

## د پلار قَسَم خوړل څنګه دي؟

د اللّٰه تَعَالٰی مَحبُوب صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ولیدو چه حضرتِ سَیِّدُنا عُمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په سُورلۍ سور روان دي او هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ دخپل پلار قَسَم خوړلو. حُضور صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ورته اِرشاد اُوفرمائیلو: "اللّٰه تَعَالٰی تاسو د پلار د قَسَم خوړلو نه منع کوي، څوك چه قَسَم خوري نو د اللّٰه تَعَالٰی قَسَم دِ خوري یا دِ چپ اوسي." (صحیح بُخاری ج٤ ص٢٨٦ حدیث٦٦٤٦)

مشهور مُفَسِّر حَکِیمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد یار خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د دې حدیثِ پاك لاندې فرمائي: یعني د غیرِ خُدا د قَسَم خوړَلو نه منع فرمائیلې شوې دې. ولې چه د عَرَب اوسیدونکو به عام طور د پلار او نیکونو قَسَم خوړلو څکه د دې ذکر وکړې شو، د غیرِ خُدا قَسَم خوړل مکرُوه دي. (مرقاۃُ المفاتیح ج٦ ص٥٧٩)

د اللّٰه تَعَالٰی نه مُراد د ربّ تَعالٰی ذاتي او صِفاتي نومونه دي لِهٰذا د قُرآنِ مجید قَسَم خوړل جائِز دي څکه چه قُرآنِ شریف د کَلامُ اللّٰه نوم دې او کَلامُ اللّٰه صِفَتِ اِلٰهی دې، په قُرآنِ مجید کښې د زماني، اِینځر او ښونه [یعني زیتُون] قَسَمونه اِرشاد شوي دي هغه شَرعي قَسَمونه نه دي او دا احکام په مونږه جاري دي په ربّ تَعَالٰی باندې نه. (مِرآۃُ المناجِیح ج٥ ص١٩٤، ١٩٥)

## که په قَسَم کښې اِنۡ شَآءَاللّٰهُ تَعَالٰی اووائي نو قَسَم به وشي که نه؟

فُقَهائے کرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی فرمائي: که په قَسَم کښې ئې اِنۡ شَآءَاللّٰهُ تَعَالٰی اُووئيلو نو د هغې پوره کول واجِب نه دي په شرط ددې چه د اِنۡ شَآءَاللّٰهُ تَعَالٰی لفظ ددې خبرې سره **مُتَّصِل** (لګيدلې) وي او که فاصِله پکښې راغله مَثَلًا قَسَم ئې وخوړو او چپ شو يا ئې په مينځ کښې بله څه خبره وکړه بيا ئې اِنۡ شَآءَاللّٰهُ تَعَالٰی اُووئيلو نو **قَسَم** باطِل [يعني ختم] نه شو. (دُرِّمُختار و رَدُّالمُحتار ج٥ ص٥٤٨) **حضرت** سَيِّدُنا عبدُاللّٰه بِن عُمر رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنۡهُمَا نه رِوايت دې چه رسُولِ اکرم صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: ”څوک چه **قَسَم** اُوخوري او اِنۡ شَآءَاللّٰهُ تَعَالٰی ورسره اووائي نو حانِث (يعني قَسَم ماتوونکې) به نه وي.“ (تِرمِذی ج٣ ص١٨٣ حديث١٥٣٦)

مشهور مُفَسِّر حَکِيمُ الۡاُمَّت حضرت **مُفتي احمد يارخان** رَحۡمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيۡه د دې حديثِ پاك لاندې فرمائي: يعني د قَسَم سره **مُتَّصِل** (يعني فوراً وريپسې) اووائي اِنۡ شَآءَاللّٰهُ تَعَالٰی. خُلاصه دا ده چه که د وعدې يا قَسَم سره مُتَّصِل اِنۡ شَآءَاللّٰهُ تَعَالٰی اُووئيل شي نو د دې برخِلاف کولو کښې نه ګُناه شته او نه کَفّاره. (مِراٰةُالمناجِيح ج٥ ص٢٠١)

## د غټو غټو بريتو والا بدمعاش

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** د عِلمِ دِين حاصلولو د پاره د دعوتِ اِسلامي د سُنَّتو ډك اِجتِماعات هم اهمه ذريعه ده، تاسو هم په خپل

www.dawateislami.net

ښار کښې کيدونکي د دعوتِ اِسلامي په هفته واره اِجتِماع کښې شرکت کوئ، د دې اِجتِماعاتو په بَرَکت د ښنګه ښنګه وران کارو خلقو په ژوند کښې مَدَني اِنقِلاب راغلو، د دې يو څرك په دې **مَدَني سپرلي** کښې اُوګورئ، چنانچه يو عالِم صاحِب چه د دعوتِ اِسلامي مُبَلِّغ هم دې، هغوئي اُووئيل چه په ۱۹۹۵ء کښې يو کس چه په هغه باندې د ډاکې وهلو زيات و کم ۱۱ کيسونه وو چه په هغې کښې يوه د قتل مُقَدّمه هم شامله وه. يو کال ئې په جيل کښې هم تير کړې وو. په محکمۀ نهر کښې نوکر هم وو. تنخواه ئې ۳۰۰۰ (يعني درې زره) وه خو هغه به په ناجائِزه طريقو مَثَلًا [سرکاري] وَنو خرڅولو او په غلا اوبه ورکولو ماهانه ۱۰۰۰۰ (يعني لس زره) روپو پورې ګټلې. هغه غټ غټ بريت پريښي وو، د شکل نه به ئې ويره کيدله. يوه ورځ پرې ما **اِنفِرادي کوشش** وکړو او د دعوتِ اِسلامي د سُنَّتو ډکې اِجتِماع دعوت مې ورکړو خو هغه زما دعوت قبول نه کړو، ما هِمّت جاري وساتو او په وقفه وقفه به مې ورته دعوت ورکولو. آخِر دا چه زيات و کم دوه کاله پس هغه زما دعوت قبول کړو او هغه سره د "**طمانچې**" په اِجتِماع کښې شريك شو. اِتِّفاقاً په هغه ورځ زما بيان وو چه هغه د جَهَنّم د عذاب مُتَعَلِّق وو. **د جَهَنّم د تباه کارو** ئې چه واوريدل نو د سخت يخ موسم باوجود د هغه **بدمعاش** جامې په خولو لَمدې شوې. د اِجتِماع نه پس هغه مسلسل ژړل او دا ئې وئيل چه: هائے زما به څه

کېږي! ما خو ډېر ګناهونه کړي دي. بيا هغه درېي ورځې تبې وکړې. هغه ته د خپلو ګناهونو ډېر زيات اِحساس شوې وو. توبه ئې وکړه او لـمونځونه کول ئې هم شروع کړل. **بل** زيارت هغه ته بيا په اِجتِماع کښې د شِرکت کولو سَعادت نصيب شو او د جَنَّت په موضوع ئې بيان واوريدو نو اُمِّيد ئې پيدا شو. په قلاره قلاره هغه په **مَدَني رنګ** کښې رنګ کيدلو. تر دې چه هغه د **دعوتِ اسلامي** په مَدَني ماحول کښې شامِل شو. هغه د خپل کور نه **ټي وي** لرې کړو (ځکه چه په هغې کښې به صِرف د ګناهونو نه ډکې چينلې کتلې شوې، او "مَدَني چينل" نه وو شروع شوې) د کيرې پريښودو او شنې عمامې په سر کولو سَعادت ئې هم حاصل کړو. دا بيان ورکولو وخت کښې هغه د دعوتِ اِسلامي په مَدَني کارونو کښې مصروف دې او تنظيمي طور په صوبائي سطح باندې د مَجلِس خُدّامُ الْمَساجِد په ذِمّه دارئ باندې موجود دې.

اگر چور ڈاکو بھی آجائیں گے تو | سُدھر جائیں گے گر ملا مَدَنی ماحول
گنہگارو آؤ، سیہ کارو آؤ | گناہوں کو دیگا چھڑا مَدَنی ماحول

(وسائلِ بخشش ص ۲۰۳)

سم به شي غله او ډاکون هم | که نصيب شو ورته مدني ماحول
ګنهګارو راشئ، وران کارو راشئ | خلاصې به درکړي د ګناه نه مَدَني ماحول

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! | صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# د قَسَم حفاظت کوئ

د دعوتِ اسلامي د اِشاعتي اداري مَكْتَبَةُالْمَدِيْنه چاپ شوي ترجَمې والا پاکيزه قُرآن ''كَنْزُالْاِيْمَان مَعَ خَزَائِنُ الْعِرْفَان'' صفحه ٥١٦ نه ٥١٧ خوارلسمه سيپاره سُوْرَةُالنَّحْل آيت نمبر ٩١ کښې اِرشاد دې:

وَ اَوْفُوْا بِعَهْدِ اللّٰهِ اِذَا عٰهَدْتُّمْ وَ لَا تَنْقُضُوا الْاَیْمَانَ بَعْدَ تَوْكِیْدِهَا وَ قَدْ جَعَلْتُمُ اللّٰهَ عَلَیْكُمْ كَفِیْلًاؕ اِنَّ اللّٰهَ یَعْلَمُ مَا تَفْعَلُوْنَ﴿۹۱﴾

مفهوم ترجمۀ كنزُالاِيمان: او د الله وعده پوره کړئ چه کله وعده وکړئ او قَسمونه د پخولو نه پس مه ماتوئ او تاسو الله په ځان باندې ضامِن کړې دې، بيشکه الله ستاسو د کارونو نه خبر دې.

او په ووه مه سيپاره سُوْرَةُ الْمَآئِدَه آيت ٨٩ کښې الله تعالٰی فرمائي:

وَاحْفَظُوْۤا اَیْمَانَكُمْؕ

مفهوم ترجمۀ كنزُالاِيمان: او د خپلو قَسمونو حِفاظت وکړئ.

صَدرُ الافاضِل حضرتِ علّامه مولانا سَيِّد **محمَّد** نَعِيمُ الدِّين مُراد آبادي عَلَيْهِ رَحْمَةُ اللّٰهِ الْهَادِي په تفسير ''خَزَائِنُ الْعِرْفَان'' کښې د دې آيت لاندې ليکي: يعني هغه پوره کړئ که په هغې کښې شرعاً څه باك نه وي او دا هم حفاظت دې چه د قَسَم خوړلو عادت پرېږدې.

## د غوره کار کولو د پاره قَسَم ماتول

**حضرت** سَیِّدُنا عَدي بِن حاتِم رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي چه ما له یو سړي راغلو او هغه سل دِرهمه غوښتل، زه ترې خفه شوم او ورته مې اُووئیل: ته زما نه صرف سلو دِرهمو غوښتلو د پاره راغلې ئې حالانکه زه د حاتِم (طائي) ځوئ یم، **قَسَم په خُدائے** چه! نه ئې درکووم. بیا ما اُووئیل چه: که ما د **رَسُولُ الله** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا اِرشادِ پاك نه وې اوریدلې چه "چا چه د یو کار قَسَم وخوړو بیا هغه د هغې نه د غوره څیز سوچ وکړو نو هغه دِ هغه غوره کار وکړي". ځکه زه تا ته ۴۰۰ دِرهمه درکووم. (صحیح مُسلِم ص۸۹۹ حدیث۱۶۵۱)

## د غوره کار د پاره قَسَم ماتول جائِز دي خو کَفّاره به ورکوي

**خوږو خوږو اِسلامي ورونړو!** د غوره کار کولو د پاره د قَسَم ماتولو اِجازت شته دې خو د ماتولو نه پس به **کَفّاره** ورکول وي ځنګه چه حضرت سَیِّدُنا **اَبُوالاَحوَص عوف اِبنِ مالِك** رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا د خپل والِد نه رِوایت فرمائي: ما عرض وکړو: **یا رَسُولَ الله** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! اُوفرمائې چه زه د خپل تره د ځوئ خوا ته څه غوښتلو پسې ورځم نو هغه ئې ما ته نه راکوي، نه صِلهٔ رِحمي کوي، بیا چه کله هغه زما ضرورت مند شي نو ما له راځي او زما نه څه غواړي. ما قَسَم خوړلې

دې چه نه به هغه ته څه ورکووم، نه به [د هغه سره] صِلهٔ رِحمي کووم. نو ما ته حُضورِ انور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حُکم راکړو چه کوم کار غوره دې هغه وکړم او د خپل قَسَم کَفّاره ورکړم. (سُنَنِ نَسائی ص۶۱۹ حدیث۳۷۹۳)

## که په ظُلم ئې د تکليف ورکولو قَسَم وکړو نو څه وکړي؟

که چا ته ئې په ظُلم د تکليف ورکولو قَسَم وکړو نو د دې قَسَم پوره کول ګناه ده. د دې قَسَم په بدله کښې به کَفّاره ورکوي. چنانچه په بُخاري شريف کښې دي، د رَحمتِ عالَم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دې: که څوك د خپل اهل [يعني د کور د کسانو] مُتَعَلِّق هغوئي ته د تکليف او ضرر (يعني نقصان) رسَوَلو د پاره قَسَم اُوخوري نو په خدائے چه هغه ته ضَرَر ورکول او قَسَم پوره کول د الله تعالیٰ په نِزد زياته ګُناه ده د دې [خبرې] نه چه هغه د هغه قَسَم په بدله کښې کفّاره ورکړي کومه چه الله تعالیٰ په هغه مُقرّره کړې ده.

(بُخاری ج۴ ص۲۸۱ حدیث ۶۶۲۵، فتاوٰی رَضَویّه ج ۱۳ ص۵۴۹)

مشهور مُفَسِّر حَکِيمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد يار خان رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه د دې حديثِ پاك نه لاندې فرمائي: يعني چه څوك د خپل کور په کسانو کښې د چا د حق وَهلو قَسَم اُوخوري مَثَلًا دا چه زه به د خپلې مور خِدمت نه کووم يا به د مور او پلار سره خبرې نه کووم، د

داسې **قَسَمونو** پوره کول ګناه ده. په هغه واجِب دي چه داسې **قَسَمونه** مات کړي او د کور د کسانو حقونه ادا کړي، **ياد ساتئ!** دلته دا مطلب نه دې چه د دې **قَسَم** نه پوره کول هم ګنې ګناه ده او پوره کول ئې ګنې زياته ګناه ده بلکه مطلب دا دې چه داسې **قَسَم** پوره کول ډيره غټه ګناه ده، دا نه چه پوره کول ئې ګنې ثواب دې، اګرچه د **ربّ** تعالٰی د نوم بې اَدَبي په قَسَم ماتولو کښې وي ځکه په هغې باندې کَفّاره واجب کيږي خو دلته **قَسَم** نه ماتول د زياتې ګناه سبَب دې.

(مِراٰۃُالمَناجِیح ج۵ ص۱۹۸ مُلَخَّصاً)

## د طلاق قَسَم خوړل او [قَسَم] ورکول څنګه دي؟

د چا نه د طلاق **قَسَم** اغستل د منافِق طريقه ده مَثَلًاچا ته دا وئيل: "**قَسَم** اُوخوره چه که فلانکې کار ما کړې وي نو په ما دِ ښځه طلاقه وي." چنانچه زما آقا **اعلٰحضرت، اِمامِ اَهلِسُنّت،** مولانا شاه اِمام احمد رضا خان رَحمَۃُاللہِتَعَالٰی عَلَيہ په **فتاوٰی رَضَوِيَّه** جلد۱۳ صفحه ۱۹۸ کښې حدِيثِ پاك نقل کوي: مُؤمِن د طلاق **قَسَم** نه خوري او نه چا له د طلاق **قَسَم** ورکوي خو مُنافِق [يعني منافِق د طلاق **قَسَم** خوري او بل له د طلاق **قَسَم** ورکوي]. (اِبنِ عَساکِر ج ۵۷ ص ۳۹۳)

# د قَسَم کَفّاره

د دعوتِ اسلامي د اشاعتي اداري مَكْتَبَةُالْمَدِيْنَه چاپ شوي ترجَمې والا پاكيزه قُرآن ''كَنْزُالْاِيْمَان مَعَ خَزَائِنُ الْعِرْفَان'' صفحه ۲۳۵ ووومه سيپاره، سُوْرَةُالمآئِده آيت ۸۹ کښې اِرشادِ رَبُّ الْعِباد دي:

لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللّٰهُ بِاللَّغْوِ فِيْٓ اَيْمَانِكُمْ وَلٰكِنْ يُّؤَاخِذُكُمْ بِمَا عَقَّدْتُّمُ الْاَيْمَانَ ۚ فَكَفَّارَتُهٗٓ اِطْعَامُ عَشَرَةِ مَسٰكِيْنَ مِنْ اَوْسَطِ مَا تُطْعِمُوْنَ اَهْلِيْكُمْ اَوْ كِسْوَتُهُمْ اَوْ تَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ ؕ فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلٰثَةِ اَيَّامٍ ؕ ذٰلِكَ كَفَّارَةُ اَيْمَانِكُمْ اِذَا حَلَفْتُمْ ؕ وَاحْفَظُوْٓا اَيْمَانَكُمْ ؕ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ اٰيٰتِهٖ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۸۹﴾

(پاره ۷، المائده: ۸۹)

مفهوم ترجمهٔ كنزُالاِيمان: **الله** تاسو نه نيسي ستاسو د غلط فهمئ په **قَسَمونو** خو په هغه **قَسَمونو** مو نيسي كوم چه تاسو مضبوط كړل، نو د داسې **قَسَم** بدله لسو مسكينانو ته طعام وركول دي په خپل كور والؤ چه څه خورئ د هغې په اوسط، يا هغوئي ته جامې وركول دي يا يو بَرده (يعني غُلام) ازادول، نو چه څوك په دې كښې هيڅ هم ونه مومي نو د درې ورځو روژې، دا بدله ده ستاسو د **قَسَمونو**، چه كله قَسَم اُوخورئ او د خپلو **قَسَمونو** حِفاظت كوئ. هم دغه شان **الله** تاسو ته خپل آيتونه بيانوي چه تاسو احسان اُومنئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د "يَا رَحۡمَةً لِّلۡعٰلَمِيۡن" د ديارلسو حروفو په نِسبَت دَ قَسَم د کَفّارې ۱۳ مَدَني ګلونه

### د کَفّارې د پاره د قَسَم شرطونه

د قَسَم د پاره يو څو شرطونه دي، که هغه نه وي نو کَفّاره به پرې نه وي. چه قَسَم خوړلو والا (1) مسلمان (2) عاقِل (3) بالِغ وي. د کافِر قَسَم ، قَسَم نه دې يعني که د کُفر په زمانه کښې ئې قَسَم وخوړو بيا مسلمان شو نو د هُغه قَسَم ماتولو کَفّاره به پرې نه واجِب کيږي. او مَعَاذَالله (يعني د الله تَعَالٰی پناه) که د قَسَم خوړلو نه پس مُرتد شو نو قَسَم باطِل شو يعني که بيا مسلمان شو او [هغه] قَسَم ئې مات کړو نو کَفّاره پرې نشته او (4) په قَسَم کښې دا شرط هم دې چه هغه څيز د څه قَسَم ئې چه خوړلې وي عَقلًا مُمکن وي يعني د کيدلو قابِل وي، اګرچه مُحالِ عادي وي [يعني عادتاً د هغې کيدل نه شي کيدې] او (5) په قَسَم کښې دا شرط هم دې چه قَسَم او هغه څيز د څه قَسَم ئې چه خوړلې وي دواړه ئې په يو ځل وئيلې وي که په مينځ کښې ئې فاصِله وي نو قَسَم به ونشي مَثلًا بل چا هغه ته اُووئيل چه اووايه، په خُدائے مې دِ قَسَم وي! ده اُووئيل: په خُدائے مې دِ قَسَم وي! هغه

ورته اُووئيل: اوواېه، فلانکي کار به کووم، او ده اُووئيل [فلانکي کار به کووم] نو دا قَسَم نه شو. (فتاوٰی عالمگیری ج۲ ص۵۱)

## د قَسَم کَفّاره

(۲) د قَسَم کَفَّاره غلام ازادَوَل يا لسو مِسکِينانو باندې طعام خوړل يا هغوئ ته د اغوستو جامې ورکول دي يعني دا اختيار شته چه په دې درې کارونو کښې کوم يو غواړي او دِ ئې کړي. (تبيِينُ الحقائِق ج۳ ص۴۳۰) (ياد ساتئ چه کوم ځائ کَفّاره ده نو هغه صرف د راتلونکي وخت [خبرې] په قَسَم ده، د تېر شوي يا موجوده [خبرې] مُتَعَلِّق خوړلې شوي قَسَم باندې کَفَّاره نشته. مَثَلًا دا ئې اُووئيل چه:"په خُدائے مې دِ قَسَم وي! ما پرون يخې اوبه يو ګِلاس هم نه دي څښلي." که څښلي ئې وې او ورته ياد وو او د هغې باوجود ئې د دروغو قَسَم خوړلې وو نوګنهګار شو، توبه دِ وکړي، کَفّاره پرې نشته)

## د کَفّاره ادا کولو طريقه

(۳) (لسو) مِسکينانانو باندې به دواړه وخته په مړه خيټه طعام خوري او په کومو مسکينانو ئې چه سحر [يا غرمه] وخوړله هم په هغوئي دِ ئې ماښام هم اُوخوري، په نورو [بدلو] لسو مسکينانانو باندې طعام خوړلو سره به کفّاره ادا نه شي. او داسې کېدې شي چه [يا] په لسو واړو ئې په يوه ورځ (دواړه وخته) اُوخوري يا هره ورځ په يو يو

www.dawateislami.net

(دوه وخته) یا ئې په یو د لسو ورځو پورې دواړه وخته اُوخوري. او په کومو مسکینانانو ئې چه اُوخوري چه په هغوئې کښې څوك ماشوم نه وي او په خوړلو کښې اِباحَت (یعني د خوراك اِجازت ورکول) او تَملِيك (یعني مالِك جوړول چه که غواړي وئې خوري یا ئې که غواړي یوسي) دواړه صورتونه کیدې شي او دا هم کیدې شي چه د خوړلو په ځائې هر مِسکین ته نِیم صاع غنم یا یو صاع وربشې ورکړي (یو صاع په څلورو کلو کښې ۱٦۰ ګرامه کم او نیم صاع په دوه کلو کښې ۸۰ ګرامه کم وي) یا دِ ئې د هغې د قِیمَت مالِك کړي یا دِ ئې هره ورځ یو یو مِسکین ته په قدر د **صَدَقۂِ فِطر** [یعني د یوې فِطرې همره] ورکوي یا دِ ئې په بعضو اُوخوري او بعضو ته دِ ئې ورکړي. غَرَض دا چه د هغې (یعني د کَفّارې ادا کولو) ټول صورتونه د هغې نه (یعني د مَکتَبَةُ المدینه د چاپ شوي بهارِ شریعت جِلد۲ صفحه ۲۰۵ نه ۲۱۷ پورې ورکړې شوي (د ظِهار) د کَفّارې د بیان نه)معلوم کړئ فرق پکښې دومره دې چه هلته(یعني د ظِهار په کفّاره کښې) شپیته مِسکینان وو (او) دلته (یعني د قَسَم په کفّاره کښې) لس دي. (دُرِّمُختار و ردُّالمُحتار ج٥ص٥٢٣)

## د کَفّارې د پاره نِیَّت شرط دې

(٤) د **کَفّاره** ادا کیدو د پاره **نِیَّت** شرط دې د نِیَّت نه بغیر به نه ادا کیږي خو که هغه څيز کوم ئې چه مِسکِین ته ورکړو او د ورکولو په

وخت کښې ئې نِیَّت او نکړو خو هغه څيز تر اوسه د مِسكِين سره دې او اوس ئې نِیَّت وکړو نو ادا شوه څنګکه چه زکوٰة فقير ته په ورکولو کښې په نِیَّت کولو کښې هم دا شرط دې چه تر اوسه که هغه څيز د فقير سره باقي وي نو نِیَّت به کار وکړي ګڼي نه.

(حاشِيةُ الطّحطاوى على الدّر المُختار ج٢ ص١٩٨)

(٥) که په رَمَضان کښې د **کَفّارې** طعام ورکول غواړي نو ماښام او پيشمَني دواړو وختو کښې دِ ئې پرې اُوخوري يا دِ په يو مِسکِين باندې د شلو ورځو پورې د ماښام طعام اُوخوري. (الجوهرةُ النيره ص٢٥٣)

## په کَفّاره کښې د درې روژو د اِجازت صورت

(٦) که د غُلام ازادَولو يا لسو مِسکينانو ته د ډوډۍ يا جامو ورکولو قدرت نه لري نو پرله پسې دِ **درې روژې** ونيسي. (اَيضاً)

## د کفّارې ورکولو د وخت د حيثيت اِعتبار به وي چه روژې ونيسي او که....

(٧) عاجِزه (يعني مجبوره) کيدل به د هغه وخت په اعتبار سره وي چه کله **کَفّاره** ادا کول غواړي مَثَلًا چه څه وخت ئې **قَسَم** مات کړې وو هغه وخت مالدار وو خو د کَفّارې ادا کولو په وخت (په مالي اِعتبار) مُحتاجه دې نو په روژو **کَفّاره** ادا کولې شي او که د قَسَم ماتولو په

www.dawateislami.net

وخت کښې مُفلِس (او مِسکِین) وو او اوس (د کفّارې ادا کولو په وخت کښې) مالدار دې نو په روژو [نیولو] (کفّاره) نه شي ادا کولې.
(الجوهرةُالنیره ص ۲۵۳ وغیرها)

## د کَفّارې درې واړه روژې پرله پسې کیدل ضروري دي

(۸) که پرله پسې ئې درې روژې ونه نیولې یعني په مینځ کښې ئې فاصِله ورکړه نو **کَفّاره** به نه ادا کیږي اګر که د څه **مجبورئ** په وجه پکښې ناغه راغلې وي، تر دې چه که زنانه ته حیض وشو نو د **مخکښې** [نیولي شوو] روژو اِعتبار به نه وي یعني اوس دِ د پاك کیدو نه پس (بیا د سره نه) **پرله پسې درې روژې** ونیسي. (دُرِّمُختارج۵ ص۲۶)

## په روژو دَ کَفّارې یو ضروري شرط

(۹) په روژو د **کفّارې** ادا کولو یو شرط دا هُم دې چه دَ ختمیدو پورې (یعني د درې واړو روژو پوره کیدو پورې) په مال قدرت نه لري مَثَلًا که د دوه روژو نیولو نه پس دومره مال په لاس ورغې چه **کَفّاره** پرې ادا کولې شي نو اوس په روژو (کفّاره) نه شي ادا کیدې بلکه که دریمه روژه ئې هم نیولې وي او دَ نمر پریوتو نه **مخکښې** په مال قادِر شو نو **روژې کافي نه دي** اګرچه که په مال قادِر کیدل داسې شوي وي چه د هغه مُورِث (یعني وارِث جوړوونکې [دغه وخت]) په حق ورسیږي او

هغه ته په تَرکه (يعني وِراثَت) کښې دومره په لاس ورشي چه هغه دَ **کفّارې** د پاره کافي وي. (دُرِّمُختار ج٥ ص٥٢٦)

## د کَفّارې د روژې دَ نِيَّت دوه احکام

(١٠) په دې روژو کښې د شپې نه [يعني د روژې د بنديدلو د وخت نه مخکښې مخکښې] **نِيَّت** شرط دې او دا هم ضروري دي چه د **کفّارې** په نِيّت وي مُطلق د روژې نِيَّت کافي نه دې. (مَبسوط ج٤ ص١٦٦)

## که د قَسَم ماتولو نه مخکښې ئې کفّاره ورکړه نو ادا نه شوه

(١١) د **قَسَم** ماتولو نه مخکښې **کفّاره** نشته، او که ورئې کړه نو ادا نه شوه يعني که د **کفّاره** ورکولو نه پس ئې **قَسَم** مات کړو نو اوس دِ بيا [کَفّاره] ورکړي ځکه چه مخکښې ئې کومه ورکړې ده هغه **کفّاره** نه ده، خو د فقير نه ورکړې شوې [څيز] بيرته نه شي اغستې.
(فتاوٰی عالمگيری ج٢ ص٦٤)

## د کَفَّارې حقدار څوك؟

(١٢) **کَفّاره** هم هغه مِسکينانو ته ورکولې شي چا ته چه زکوٰة ورکولې شي يعني خپل مور او پلار، اولاد وغيره چا ته چه زکوٰة نه شي ورکولې [هغوئې ته] **کَفّاره** هم نه شي ورکولې. (دُرِّمُختار ج٥ ص٥٢٧)

(۱۳) د قَسَم د **کَفّارې** قِيمت په جُمات کښې نه شي لګولې، نه ئې دَ مړي په کفن کښې لګولې شي يعني کوم کوم ځائ چه زکوٰة نه شي لګولې هلته د **کَفّارې** قِيمَت هم نه شي ورکولې. (عالمگیری ج۲ ص۶۲) (د قَسَم او کَفّارې په باره کښې د تفصيلي معلوماتودپاره ددعوتِ اِسلامي د اِشاعتي اِدارې مَکتَبَةُالْمَدِينه چاپ شوې د ۱۱۸۲ صفحو کتاب **بهارِ شريعت** جِلد۲ صفحه۲۹۸ نه ۳۱۱ پورې لوستل ضروري دي)

## دِيني او سَماجي اِدارې ته د کَفّارې د رقم ورکولو اَهَمه مَسئَله

**که** يوې ديني يا د مسلمانانو سَماجي اِدارې ته د کَفّارې رقم ورکول غوارې نو ورکولې ئې شي خو دا به ورته وئيل ضروري وي چه دا د [قَسَم] د کَفّارې رقم دې چه هغوئي هغه رقم جُدا کيږدي او په بيان کړې شوې طريقه ئې په کار راولي يعني يو مِسکِين باندې د لسو ورځو پورې دواړه وخته يا په لسو مِسکينانو دواړه وخته ډوډئ خوړل وغيره. که دِيني اِداره ئې په دِيني کارونو کښې خرچ کول غواړي نو د حِيله کولو شرعي طريقه داده، مَثَلًا يو مِسکين هره ورځ د يوې صَدَقۀ فِطر يا لس مِسکينان په يوه ورځ د يوې يوې صَدَقۀ فِطر مالِکان جوړ کړي او هغه ئې د خپل طرفه د دِيني کارونو د پاره ورِاندې کړي.

تُو جھوٹی قَسَم سے بچا یا الٰہی     مجھے سچ کا عادی بنا یا الٰہی!

www.dawateislami.net

د دروغو د قَسَم نه مې کړې بچ يا اِلٰهي ته راکړې عادت صرف د سچ يا اِلٰهي

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## واه څه به وائې د مَدَني تربِيتي کورس!

**خوږو خوږو اِسلامي ورونړو!** د دروغو د قَسَمونو نه د توبې جذبه موندلو د پاره په خبره خبره د قَسَم خوړلو عادت ختمولو د پاره، ضروري دِيني معلومات حاصلولو او په سُنَّتو د عمل کولو عادت جوړَوَلو د پاره د "**دعوتِ اِسلامي**" په مَدَني ماحول کښې د **٦٣ ورځو مَدَني تربيتي کورس** کيږي، د چا نه چه کيدې شي هغه دِ دا ډير فائِده مند مَدَني تربيتي کورس ضرور وکړي، ستاسو د ترغيب او تَحرِيص [يعني د نيکو د حِرص راپيدا کولو] د پاره يو **مَدَني سپرلې** وړاندې کيږي، چنانچه د يو اسلامي ورور د بيان خُلاصه ده: زمونږ د علاقې يو ځلمې چه هغه د مو و پلار صرف يو ځوئ وو، د غلط صُحبت په وجه د **چرسو** په نشه اخته شو، د کور نه باهر اوسيدل د هغه عادت جوړ شو،پلار به ئې اکثر دا َدِيرې [يعني مُقبرې] نه د چرسيانو د مينځه را پاخولو او کور ته به ئې راوستلو. د کور ټول کسان د هغه په وجه ډير خفه وو. يوه ورځ يو اسلامي ورور په هغه باندې **اِنفِرادي کوشش** وکړو او هغه ته ئې د **مَدَني تربيتي کورس** کولو ترغيب ورکړو د هغه خوش قِسمتي وه چه هغه تيار شو او د **دعوتِ اسلامي** عالَمي مَدَني

مرکز **فیضانِ مدینه** ته راغلو. په کور کښې خوشحالي خوره شوه! ټول کور والؤ دُعاګانې کولې چه دا نیك جوړ شي خو بیا هم یَریدل چه دا چرې بیرته را نه شي. اَلْحَمْدُلِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ یو څو ورځې پس د هغه څه داسې فون راغې چه "تربیتي کورس ما ته ډیر خوند را کوي، داسې ښکاریږي لکه فیضانِ مدینه ته چه د مَدِینې مُنَوَّرې نه براهِ راست فیض [یعني بَرَکتونه] راروان وي ما د خپلو ټولو ګناهونو نه توبه کړې ده، اوس زه د جَمعې سره لـمونځونه کووم، سُنّتونه زده کووم او زه په ډیر سکون یم."

اَلْحَمْدُلِلّٰه د **مَدَني تربیتي کورس** نه چه بیرته راغلو نو واقِعي هغه بالکل بدل شوې وو. د هغه په بدلیدَلو باندې د کور ټول کسان بلکه د ټول ګاونډ والا هم حیران وو. ښکلې نُوراني ږِیره ئې پریښې وه او په سر ئې د شنې شنې عمامې تاج پړقیدلو. هغه چه څنګه راغلو نو د کور په کسانو ئې هم **اِنفرادي کوشش** شروع کړو چه د هغې به بَرَکت ئې والِد صاحِب هُم **ږیره** پریښوده او د **عمامې شریفې** تاج ئې هُم په سر کړو او په پابندئ سره ئې **د سُنَّتو ډکې هفته واره اِجتِماع** کښې شریك کیدل شروع کړل. والِده مُحترمه ئې د "**دَرسِ نِظامي**" او خور ئې د "**شریعت کورس**" کولو نِیَّتونه وکړل. د هغه څلمي هلك پلار مُبلِّغِ دعوتِ اسلامي ته څه داسې اُووئیل چه زه د دعوتِ اِسلامي والؤ د پاره د بَرَکت دُعا کووم، خصوصاً د هغوئي د پاره چا چه زما په ځوئ

"اِنفِرادي کوشش" وکړو او سمدستي ئې د ٦٣ ورځو مَدَني تربيتي کورس کولو د پاره بوتلو ځکه چه مونږه د ده د عادتونو نه ډير زيات پريشانه وو، د هغه والِده خو دومره پريشانه شوې وه چه يوه ورځ ئې د ډيره خفګانه د مَنکورو [يعنې کتملو] مصاله راوړه او وئيل ئې چه يا ئې زه خورم چه مړه شم او يا ئې ده ته ورکووم چه دې مړ شي. اوس د هغه والِده په ژړا ژړا دُعاګانې کوي چه الله تعالیٰ دِ دعوتِ اسلامي والا سلامت لري ځکه چه د دوئي په کوششونو زما وران کارې خوئ نيک جوړ شو.

اگر سُنّتیں سیکھنے کا ہے جذبہ — تم آجاؤ دیتا سکھا مَدَنی ماحول

تو داڑھی بڑھالے عمامہ سجالے — نہیں ہے یہ ہرگز بُرا مَدَنی ماحول

(وسائلِ بخشش ص۶۰۳)

که لرې ته جذبه د سُنّتو زده کولو — راشه چه درته ئې کړي زده مَدَني ماحول

ته پريږده ګيره او په سر کړه عمامه — هيڅ بد نه دې ډير دې ښه دا مَدَني ماحول

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

۱۸ شعبان المعظم ۱۴۳۳ھ

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

## نيك او لمونځ ګزاره جوړيدو د پاره

هر زيارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ځاى كښې كيدونكي د **دعوتِ اِسلامي** د سُنَّتو ډكه هفته واره اجتماع كښې د رِضائے اِلٰهي د پاره د ښو ښو نِيَّتونو سره ټوله شپه تيروئ ✿ د سُنَّتو د تربِيَّت د پاره په **مَدَني قافِلو** كښې د عاشِقانِ رسُول سره هره مياشت د درې ورځو سفر او ✿ هره ورځ د "**فِكرِ مَدِينه**" په ذريعه د **مَدَني اِنعاماتو** رِساله ډكوئ او د هرې مَدَني مياشتې په يكم تاريخ ئې د خپل ځاى ذِمّه دار ته د جمع كولو معمول جوړ كړئ.

**زما مَدَني مقصد:** "**ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح كوشش كول دي.**" اِنۡ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپل ځان د اصلاح د پاره په "**مَدَني انعاماتو**" عمل او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح د كوشش كولو د پاره په "**مَدَني قافِلو**" كښې سفر كول دي. اِنۡ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ










MC 1286

فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډئ، بابُ المدينه (كراچۍ)

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 7213

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net